مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۵/۰۴

# غزل

## د وروړ د مینې په ارمان یمه زه

د کوم منزل په لـور روان یمه زه

وازې تنۍ، څیرې ګریوان یمه زه

مخ مې خړ، پړ تورو لوګو وهلی

د بل د جنګ د سر عنوان یمه زه

جنګ د پردو مو راوړ خپل کاله ته

بریت تاوه وم چې څنګه ځوان یمه زه

اوس مې د مینې کور تالا والا دی

د وروړ د مینې په ارمـان یمه زه

شپه، ورځ مزل کوو. منزل نه لرو

سترې په تلو هسې کاروان یمه زه

لکه ړانـده د غلـو په لـور روان یو

بې رهنما او بې څاروان یمه زه

یادونه: که چیری گران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!